خاکه

# عجیبه سړے

ګل محمد بېتاب

غټ پـلن مخ،مناسبې غټې اټرې سترګې، د پـاسه پرې غټې د نظر چشمې،غوړېدلے تندے، د وېښتـو نــه نیـم پــه نیمــه وزګار شوے غټ سر، رنګے او لنډه ږیره، مناسب قد او د وجود په لحاظ غټ پټ سړے چې پـه لیـدو بـه ئې بـنـده په رعب کښې راتـلـو خـو چې ورسـره بـه څوک په مجلس کښې کېـنـاسـتـو نـو ورتـه بـه معلومه شوه چې د وجـود پـه لـحـاظ دا غټ سړے پـه عـلـمي لحاظ د غرونو هومره لوړوالے،اوچتوالے او دروندوالے لري خـو بیـا هـم پـه خپـل مزاج کښې څومره رنګیني لري. د مزاح حس ئې څومره تیز دے او ورسره ئې اواز هم منفرد دے.

دا راته صحیح یاد نۀ دي چې کوم کال به ؤ خـو مـا پــه پښتو اکیډمۍ کښې پـه ورومبي ځل لیـدلے ؤ چې پـه یـوه علمي او ګرانه موضوع ئې خبـرې کـولې. مـاتـه داسې ښـکاره شوه لکه چې سـنجیده خبرې په غېر سنجیده انداز کښې کوي. یـا پـه غیـر سـنـجیده انداز کښې سنجیده علمي خبـرې کوي. نۀ پوهېدم چې دا ئې عادت دے او کۀ قـصـداً ئې دا انداز خپل کړے دے. خو بس ناڅاپه مې زړۀ کښې اووې دا خـو عجیبـه سړے دے. پـه ګپ شپ او خـنـدا کښې د کار خبرې کوي. خو چې ورو ورو مې څه لږ ډېر اوپېژندو او د علمي او ادبي کـارنامو نه ئې خبر شوم نو پوهه شوم چې دا انداز ئې ورلـه پـه خپـلـه خـوښ کړے دے او دا د هغه د اوږدې تـجـربې نـچوړ ؤ. ولې چې دې سړي د عمر اوږده حـصـه د عـلـم پـه حاصلولو او ښودلو کښې تېره کړې وه. البته په طبیعت کښې د طنز و مزاح حس شامل ؤ ځکه نو څوک به ئې په مجلس کښې نۀ تـنـګېـدل او نۀ بـه ئې خبرې په چا بوج کېدلې. بـلـکې بـنـده بـه وئیل ارمـان دے چې لږ نور څه اووائـي. او هـر ځـل چې مـا لیدلے د دۀ خبرې مې اوریـدلـي او یا مې د دۀ کوم لیکونه لوستي نو بې اختیـاره مې د خـلـي نــه وتلي دي دا خو عجیبـه سړے دے. مـا زړۀ کښې دۀ لــه کـوم موزون نوم خـوښـول غـوښـتـل خو د دۀ چې کوم تعلق داران ما پـېـژنـدل خـصـوصـاً قـلندر مومند صېب او ډاکټر هـمـایـون هـما نو د هغوي د خلې نه مې هم څو څو ځـلې اوربـدلـي دي چې میـا صېب عجیبـه سړے دے. تۀ ګوره په دې کتاب یا فلاني سړي ئې داسې تبـصره کوله. بس پوهه شوم چې دا واقعي عجیبه سړے دے او دا نـوم ورلـه مـنـاسب دے. دا سړے د

کاکاخیلو د علمي کورنۍ سید محمد تقدیم الحق ؤ چې عام طور سره په میا صیب مشهور ؤ.

د حاضر جوابۍ،برجسته او ذومعنی خبرو د وئیلو او لیکلو دپاره مشهور ؤ. په دې کښې به ئې خپل یو انفرادي رنګ لرلو. او د دوي د خلې وتلې اکثرې خبرې دومره مشهورې دي کۀ څوک ټولې راغونډې کړي نو یو مناسب کتاب ترې جوړیدے شي.

د دیني علم شروع ئې د مدرسې نه کړې وه او بیا د خپل وخت د ټولو نه لوئې دیني مدرسې دارالعلوم دیوبند ته رسیدلے ؤ او د هلته نه ئې د فضیلت پټکے په سر کړے ؤ. چې کله د هغه ځایه واپس شو نو مختلف کارونه ئې کړي څه موده ئې په لاهور کښې د مختلفو کتابونو اردو ته ترجمې کړې وې خو چې دغه کار خوند ور نۀ کړو نو د حکمت کار ئې شروع کړو او چې بیا ئې کله د انګریزي دوایانو دوکان پرانستو نو دغلته ئې انګریزي د لارې خنډ شوه ولې چې کۀ څه هم په عربۍ،اردو،فارسۍ او پښتو کښې ماهر ؤ خو انګریزي د دۀ دپاره نوې ژبه وه خو وار ئې ور ته خطا نۀ کړو او په خپل سمي ئې د دې زده کول شروع کړل او تر دې حده مهارت ئې پکښې د خپل تیز او رسا ذهن په مدد حاصل کړے ؤ چې ډېر ښه ښه د انګریزۍ ژبې ماهران او ډګرې یافته ورته حیران شوي وو او دا اعتراف ئې کړے ؤ چې دا خو ډېر عجیبه سړے دے زمونږ نه په انګریزۍ ښه پوهیږي حالانکې ملا دے.

په پرائیویټ توګه ئې خپله د تعلیم سلسله جاري ساتلې وه. او محض په څو کالو کښې ئې خبره تر څوارلسم جماعته رسولې وه. د بي اے او دارالعلوم دیوبند د سند په وجه د اسلامیاتو لیکچرر اخستے شوے ؤ. او بیا دا لوئې اعزاز هم خدائې تعالی د دۀ په برخه کړو چې بنو کالج کښې ئې د هر چا نه وړاندې طالبعلمانو ته د پښتو ښودل شروع کړل. ولې چې دغه وخت پښتو ژبه د اختیاري مضمون په توګه کورس کښې شامله وه خو طالبعلمانو ته ئې د لوستو څه انتظام نۀ ؤ چې دا کمے ورله دۀ محض په خپل شوق پوره کړے ؤ.

د علي خان د دیوان په حقله د یوې اوږدې او معلوماتي مقدمې نه علاوه ئې د اخون درویزه بابا په مخزن اسلام یوه داسې مدلله او تحقیقي مقاله لیکلې ده چې د دې کچ مقالې په پښتو ادب کښې ډېرې کمې لیکلے شوې دي.

د پښتو اکیډمۍ باني دائریکټر مولانا عبدالقادر ته ئې علمي او شاعرانه حیثیت معلوم ؤ. ځکه نو هغه ورله د علامه اقبال درې کتابونه زبورعجم،ضرب کلیم،او پس چې باید کرد د ترجمو دپاره ورکړي وو. د علامه اقبال د یو ترجمه شوي کتاب او کامګار خان د دیوان په حقله

ئې پــه ګيله من انداز کښې مضمونونه هم ليکلي وو چې پـــه دې کښې ډېــرې غـلـطۍ شوې وې. د ديـوان کـامګار دويم اشاعت شروع ئې داسې کړې ده. ,, زهٔ يـو ځـل بيا د خپل کتاب په غندنه کښې مـضمون ليکم لکه سړے چې خپل ليونے زوي په څپېړو وهـي. د غـم سره غم رايادېږي. دا درد په ما يو ځل مخکښې هم تېر شوے دے،، دا درد هر هغه ليـکـوال مـحسوسولے شي چې ليک ئې په اخبار مـجله يا کتاب کښې غلط چاپ شي. د پښتـو ژبې تـر لسـم جماعته پورې د نصاب دپاره ئې کـتابونه هـم تيـار کړي وو چې تـر ډېـرې مـودې ماشومانو لوستلي دي.

د يـو عـالـم فـاضـل په توګه د خپل کار د اهـميـت نـه خبـر ؤ او د بـعـضو خلقو په قول دے وړومـے ليکوال ؤ چې د خپل ليک په قدر و قيمت پوهېدو او د هغې مناسبه معاوضه به ئې غوښتله. دا خبـره بـه ئې په ښکاره کوله چې د روپو کار وي نـو ماله ئې راوړئ. ډېر په مينه به ئې کوم او کهٔ د پښتـو ادب د خـدمـت خبـره وي نـو قـلندر مومند صېـب له ورځئ. هغه د پښتو ادب خدمتونه کوي ځکه نو خپل کارونه د شپې کوي او حال ئې دا دے چې تـــراوســـه د کـــرائې پـــه ورکـوټي کور کښې اوسېږي. د هغوي په دې خبره کښې يو خوا د خپل ليک اهـميـت ښکاره کېږي نو ورسره ئې د قلندر مـومند صېب جذبه هم ستائيله. دا به ئې هم وئيل

ارمـان دے چې خـله زما وې او علم د قلندر صېب وے نـو هيڅـوک بـــه مې د جـواب نهٔ وو. د قلندر مـومـنـد صېب نه علاوه ئې څو اعتباري دوستان نور هم وو چې په هغوي کښې حافظ ادريس،رشيد بـاچا،پريشان خټک،ډاکټر همايون هما،ممتازعلي خان،عبدالقدوس قاسمي وغېره شامل وو.

کهٔ څـه هـم تعلق داران او شاګردان ئې ډېر وو خـو د دوستـانو حلقه ئې محدوده وه خو چې چا سـره ئې دوستـي وه نو کلکه وه. او د هغوي دپاره ئې هـر څـه کـول تـر دې چې دوه څلورو تنو له ئې محض په خپل زور او تعلق نوکرۍ بچ کړې وې.

خپل يو نوکر او ډرائيور اخترخان سره ئې دا نيـکي کړې وه چې د تعليم نيمګړې سلسله ئې ورله بحال کړې وه او دې حد ته ئې رسولے ؤ چې د پښتـو د وړومبۍ پي ايچ ډي ډاکټر پټکے ئې ورته پـه سـر کـولو او هم د دې په وجه ئې د ډاکټر اقبال نسيـم خټک دشـمني په سر اخستې وه. خپله ئې مـاتـه يـوه مرکه کښې د دې سوال په جواب کښې وئيـلـي وو چې اقبـال نسيم خټک صېب به تاسو پسې کـومې خبـرې کـولې نو دا سمې وې کهٔ نـه؟ ميـــا صېـب اووې څـــه خبرې ئې سمې وې او څـه غلطې وې خو د ډاکټر اقبال نسيم سره زما د ډاکټر اختر په وجه ورانه وه. اوس چې هغه د مېنځه لاړو نو بس خبره ختمه شوه هغه زمانه خوشحاله شو او زهٔ د هغه نه خوشحاله شوم.

د خپلــو ځینو تعلق دارو او دوستانو سره بــه ئي بي تــکـلفه خبرې کولې. د پښتو ژبې نوي دوه ډرامــه نــویـــس او د ریډیــو پــخواني ډائریکټر ښـاغـلـي عمرناصر صېب راته وئیل چې یوه شپه زهٔ ټیـلي ویژن ته څه پروګرام له تلے وُم. زما چې د شپې پـروګـرام ختم شو نو د ټي وي فلائنګ کوچ کښې کېـناستم ډرائیور راته ووې لږ صبر به کوو ځکه چې قلندر مومند صېب او تقدیم الحق صېب هـم راغـلـي دي هغوي به هم کورونو ته رسوو. ما ور تـه ووې ښه ده زهٔ ستړے یم دې وروستي سیټ کښې ځـمـلـم او چې کـلـه هغوي راشي نو اول بـه هـغوي ورسوې او بیا ما. څه وخت پس دوي دواړه راغـلـل ګـاډي کښې کېـناسـتل خو خپلو کښې په ګپ وو او زهٔ شـاتـه ملاست وُم. زهٔ ئي ونهٔ لیدم او خپلو کښې ئي مشغولا شروع کړه خو خپلو کښې ئي هـغـه خبرې کولې چې زما په خله نهٔ راځي چې کـلـــه قـلـنـدر صېب کـوزېـدو نو دغـه وخت زهٔ راپـاسېـدم او پـه مخه ښه مې ورته وئیـل نو دواړو مشـرانو راته ډېر په سختۍ اووې تا ولې ځان غلے کړے ؤ. مـــا ور تـــه ووې زهٔ اودهٔ وُم اوس راویښ شـوم دواړه مـطمئین شول خو زهٔ ډېر حېران شوم. مـا ورتــه ووې دا هیڅ د حېرانتیا خبره نهٔ ده. ځکه مـحـض د وخـت تیـري دپاره به دې مشرانو خپلو کښې داسې ګپونه لګول.

د دوستـانـو دپاره به ئي لکه څنګه چې ما وړاندې وئیلي دي هر څه کول. د دوي د نورو دپاره سفارش به ئي هم قبلولو خو چې څوک به ورغلے ؤ نـو هـغـه بـه ئي څـه نه څه ټڼګولو چې تعلق ئي د سـفارش کوونکي سره د کوم نوعیت دے. اکثر به ئي ورلـه کـارونـه کـول خو کله کله به ئي سکوټ انکار هم کولو. لکه یو سړے ورله داسې چا لېږلے ؤ چې هـغـه میـا صېـب د پـنشن نه پس له نوکري ورکړې وه. سړے چې ورغـلـو او خپـل غـرض ئي ورتــه اووې نـو میا صېب ترې په خپـل مخصوص انـداز کښې پـوښتـنـه وکړه تهٔ چې کله په ستاپ د بـس نـه کوز شوې نو هلته څه وو؟ سړي اووې ډېر څـه وو. میـا صېـب اووې څـــه د فروټو ګاډۍ بـه ضـرور تـا لیـدلي وې. هغه اووې او او ښه ډېر وو. بیا ئي ور ته اووې دېخوا چې راتلې نو په لاره به د چـرګـانو پنجرې هم تا ضرور لیدلي وې هغه سړي اووې او. بیـا ور ته میا صېب اووې په بازار کښې د کپړو دوکـانـونـه هـم وو. تـا به لیدلي وي. هغه سړي پـه حېرانۍ کښې اووې او خو ستاسو مطلب څـه دے؟ میـا صېب ور ته اووې تهٔ خو په ما ناروا کـوې نو پکار وه چې لږ فروټ،جرګه یا د تحفې په طـور دې یـوه سپـیـنـه جوړه جامې راوړې وې. زهٔ تـاله کار نهٔ کوم تهٔ هڅو په دود دستور نهٔ پوهېږې. هغه سړي ور ته اووې میا صېب دعا به درته کوم. میـا صېـب ور ته اووې ځان ته دعا وکړه زهٔ میا یم ماله خلق دعاګانو له راځي.

(نور بیا)